شریف بهاند

# خونړۍ پولې ــ د نوي او لا ښه منځني ختيځ څرنګوالی

خونړۍ پولې هغه د پام وړ او په زړه پورې ليکنه ده، چې د رالف پيترز له خوا د متحدو ايالتونو د دفاع د وزارت د وسله والو ځواکونو د Armed Forces Journal (AF J) د مجلې د جولای د مياشتې په ګڼه کې خپره شوې ده. ليکوال په خپلې دغې ليکنې کې په کره کتنې توګه د نړۍ په ځينو برخو، د ساری په توګه په افريقا او تر ټولو دمخه د نږدې او منځني ختيځ په ستراتيژيکو سيمو کې د مصنوعي او غير منصفانه پولو رامنځته کيدل تر نيوکې لاندې نيولې دي او وايي، چې: "د افريقا د دغو غيرمنصفانه پولو په شا و خوا کې تر اوسه په ميليونونو خلکو خپل ژوند له لاسه ورکړی او دغه بهير لا دوام لري. خو له افريقا پرته دغه ډول تر ټولو غيرمنصفانه پولې ... په منځني ختيځ کې رامنځته شوې دي، چې له ګټو څخه يې زيان ډير دی"(Ralph Peters, 2006, S. 1). نو ځکه پيترز په دغې سيمې کې د ځينو قومونو او مذهبونو، لکه کردانو، بلوڅانو او شيعه اعرابو په وړاندې د تيرو زور زياتيو او بې عدالتيو د له منځه وړلو په موخه د نوو پولو د رامنځته کيدو، د نوي احتمالي نقشې طرحه وړاندې کړې ده، چې د نوموړی په اند د هغې په پلي کيدو سره، بنايي په دغو سيمو کې کړکيچ له منځه لاړ او د قومونو، ملتونو او مذهبونو تر منځه عدالت رامنځته شي.

خو په دې اړه تر هر څه دمخه دا پوښتنه رامنځته کيږي، چې دغه غير منصفانه پولې په څه ډول، د چا له خوا، څه وخت او د کومو موخو له پاره رامنځته شوې دي؟ ايا دا په تيره پيړۍ کې په اصطلاح متمدن، ديموکراتيک، د ولسواکۍ او قانون پر بنسټ ولاړ ستر ځواکونه، د ساری په توګه د اِن تِن ته Entente د ترون غړي هيوادونه، بريتانيا، فرانسه، روسيه او ايتاليا نه وو، چې د لومړۍ نړيوالې جګړې په ترڅ کې د خپلو سياسي او تر ټولو دمخه اقتصادي موخو د ترلاسه کولو او د ملی ګټو د ساتنې له پاره، دسايکس ـ پيکوت د ترون Sykes–Picot–Abkommen پر بنسټ په پټه توګه د منځني ختيځ سيمه په خپل منځ کې سره و ويشله؟ (Kronberger Hans, 1998, S. 40-46) ايا د بريتانيا حکومت د باالفور د اعلاميې Balfour -Deklaration له مخې د خپلو سياسي او اقتصادي موخو د ټينګښت له پاره د فلسطين په سيمه کې د اسراييلو د دولت بنسټ کينښود (وګورئ: Seleman Saliba, Kaiserslautern, 1996/97)؟ ځکه د دوی په اند: "د عربي هيوادونو په منځ کې، چې تل يو له بل سره په کړکيچ اخته وو، بايد د داسې يوه دولت بنسټ اينښودل شوې وي، چې د يهودانو له خوا اداره او د بريتانيا تر قيموميت لاندې وي، په دې موخه چې په دې بې ثباته سيمه کې د بريتانيا اغيز د تل له پاره تأمين شي" (Hans Kronberger, 1998, S. 44). ايا د بريتانيا امپراتورۍ د

خپل د سرو زرو د خول، بریتانوي هند، د امنیت او ساتنې له پاره د خپل ښکیلاکګر سیاست پر بنسټ او د ایران په خوښاوۍ په ۱۸۷۱ کال کې د ګولډ سمیت د ترون له مخې بلوڅان سره و نه ویشل؟ او همدارنګه د همدې موخې له پاره په کال ۱۸۹۳ کې د ډیورند د کرښې په ایستلو سره یې د افغانستان ستراتیژیکه سیمه، د خیبر دره، له دغه هیواد څخه جلا نه کړه او پښتانه قومونه یې سره و نه ویشل؟ (وګوري: شریف بهاند، ۲۰۰۱ ، مخ.۷ ـ ۱۲ ).

په لنډه توګه د تیر تاریخ په راسپړلو سره، سرې ته دا روښانه کیږي، تیرو سترو ځواکونو، چې اوس هم په نړیوال سیاست کې مهم رول لوبوي، د وخت له شرایطو سره سم د خپلو ملي او ستراتیژیکو ګټو په پام کې نیولو او د خپلې برترۍ د ساتنې په موخه، د تمدن، ولسواکۍ او د دیموکراتیکو بدلونونو د پراختیا او همدارنګه د بشر د حقوقو ساتنې تر نامه لاندې د نړۍ په نورو برخو، په تیره بیا په هغو سیمو کې، چې یا له ستراتیژیکه پلوه مهمې او یا هم د کرنیزو او طبیعي توکو د زیرمو له پلوه بډاي وي او دي، لاسوهنې کړي. د لاسوهنو بنسټیزې موخې له بیلا بیلو لارو پر یادو شوو زیرمو واکمنې وه او دا ډول سیاست اوس هم لا دوام لري. نو ځکه سترو ځواکونو په دغو سیمو کې له خپلې خوښې سره سم، د دا ډول غیرمنصفانه پولو په ایستلو او د ملتونه او قومونه په ویش سره، ځانته داسې دوست دولتونه رامنځته کړي، چې د هغوی په مرسته خپلې ګټې تضمین او د دغو سیمو د طبیعي زیرمو د تالان له پاره قانوني لارې برابرې کړي.
اوسمهال هم یوه خبره روښانه ده او هغه دا چې له یوېخوا، د یوازینی زبرځواک، د متحدو ایالتونو او د هغو د ټلوالې د تیلو پاتې زیرمې مخ په خلاصیدو دي او له بلې خوا تر ۲۰۲۰ کال کې پورې یوازې د متحدو ایالتونو د تیلو لګښت څه نا څه اویا په سلو کې باید له وارداتو څخه سمبال شي (وګوري: Jürgen, Wagner, 2003, S. 50). نو ځکه د همدې لاملونو پر بنسټ او د دغه هیواد د صنایعو د لومړنیو اومه توکو د اړتیا د سمبالښت تضمینول، هغه فکتورونه دي، چې ورځ په ورځ د متحدو ایالتونو د بهرني سیاست په بنسټیزې موضوع بدلیږي او دا تولې هغه نښې نښانې دي، چې کیدای شي، په راتلونکي کې د نړۍ پر پاتې زیرمو په تیره بیا، تیلو کړکیچونه رامنځته شي. که څه هم ان اوس داسې بریښي، چې هغه لا پخوا پیل شوي دي. ځکه، کله چې د جګړو، ټولوژنو او پوځي کړکیچونو په اړه خبرونه تر غوږه کیږي، سړی ته ډیر ژر روښانه شي، چې د هغو تر شأ د اومه توکو، تر ټولو دمخه د هغو زیرمې ستر رول لوبوي. نو په دا ډول سیمو او یا هم د هغوی په شأ و خوا سیمو کې جګړې په خورا شدت سره دوام لري او دا ډول جګړې تر زیاتې اندازې پورې متحده ایالتونه او ټلواله یې د خپلو اقتصادي او سیاسي برترۍ ساتنې له پاره ترسره کوي. په دې اړه د متحدو ایالتونو د ملی امنیت په ستراتیژۍ NSS کې راغلی: "ولسمشر [باید] په پام کې ولري، هیڅ یوه بهرنی ځواک ته اجازه ور نه کړي، هغه ستره برترۍ، چې متحدو ایالتونو له سړې جګړې څخه وروسته پر هغې بریالي شوي، ترلاسه کړي"(Jürgen, Wagner, 2003, S. 41).

دا چې په ربښتیا سره د رالف پیترز د نوې احتمالي نقشې طرحه، په نړۍ کې د مصنوعي او غیر عادلانه پولو او د قومونو، ملي او مذهبي لړکیو په وړاندې د بیعدالتیو او بې

بيرحميو له منځه وړل او د هغوی له پاره د دولتونو رامنځته کول دي او که د دغو نوو پولو او رامنځته شوو دولتونو له لارې بيا هم په غيره مستقيمه توګه د نړۍ د تيلو، ګازو او د هغوی په پايپ لاينونو او د نورو طبيعي توکو پر پاتي زيرمو د واشنګټن کنترول او په دې توګه د دغه هيواد د ترلاسه شوې برترۍ د خوندي کولو هاند و هڅه ده، يوې ژورې او هر اړخيزې څېړنې ته اړتيا لري، چې ښايي هغه په راتلونکو څو اونيو کې د محترمو لوستونکو له پاره چمتو او وړاندې شي.

خو اوس يوازې د رالف پيترز د ليکنې ژباړه د ګرانو هيوادوالو د خبرتيا له پاره وړاندې کيږي،څو دوی په دې برخه کې ژور او هر اړخيزفکر وکړي او ځانونه د پولو دا ډول بدلون ته، چې د هغه د ليکوال په اند، نه د زورزياتيو له لارې، بلکې په ديموکراتيکه توګه او د ټولپوښتنو له لارې به تر سره شي، چمتو کړي. ځکه په دې ليکنې کې نه يوازې د منځني ختيځ د ځينو هيوادونو، بلکې د افغانستان او د هغه د ګاونډيو هيوادونو د ځمکنۍ بشپړتيا په اړوند ژور بدلونونه تر سترګو کيږي.

بايد يادونه وشي، چې د دې ليکنې په اصلی متن (انګليسی) کې له ډېرو ځانګيزو اصطلاحاتو څخه ګټه اخيستل شوې، نو ځکه د هغې د لا ښه پوهاوی له پاره مناسبه وبلل شوه، چې پښتو ژباړه يو څه په آزاده او ساده ژبه تر سره شي. بيا هم ښايي د ژباړې په برخه کې ځيني نيمګړتياوې شوې وي، چې زه د هغه له امله له ګرانو لوستونکو څخه بښنه غواړم. په پای کې د ښاغلی جاويد او مړوند بهاند له هغې مرستې څخه، چې له ما سره يې د ژباړې د اصلاح په برخه کې تر سره کړې ده، د زړه له کومې مننه کوم.

شريف بهاند

د برلين ښار

۲۰۰۶ / ۹ / ۹

اخځ:


۱ـ شريف بهاند: د لويې لوبې په هنداره کې د افغانستان ځليدنه، يو جيوپولتيکي څيرنه، ۲۰۰۱

۲- Hans Kronberger: Blut für ضا, der Kampf um die Ressourcen, Wien, 1998

۳- J. Wagner: Das ضl und der Krieg: in: C. Haydt / T .Pflüger / J. Wagner: Globalisierung und Krieg, Hamburg, ۲۰۰۳

۴- J. Wagner: das US – amerikanische Imperium im Zeitalter der Globalisierung: in: C. Haydt / T .Pflüger / J. Wagner: Globalisierung und Krieg, Hamburg, 2003

٥- Ralph Peters: Blood borders: in: Armed Forces Journal, 06. ٢٠٠٦
٦- Selaman Saliba: Die Geschichte des arabisch-israelischen Konflikts, Kaiserslautern, 1996/97

## د نوي او لا ښه منځني ختيځ ځرنګوالی

لیکوال: رالف پیترز

ژباړونکی: شریف بهاند

اخځای: http://www.armedforcesjournal.com

نړیوالو پولو تر اوسه پورې خپله وروستي ښه نه ده ترلاسه کړې. دا به ډیره بې انصافي او بې عدالتي وي، که د آزادئ او ښګیلاک، مهرباني [دارا] او بیرحمي، ترهګرئ او قانون او همدارنګه د سولې او جګړې تر منځه د مصنوعي پولو او حصارونو په مرسته بیلتون رامنځته کړي شي.

په نړئ کې تر ټولو زیاتي له ظلم ډکې، مصنوعي او له عدالت څخه لرې پولې په افریقا او منځني ختیځ کې رامنځته شوي دي. دغه رامنځته شوې پولې د اروپایي ځان غوښتونکو په مرسته (کومو چې په خپلو پولو کې په پوره اندازه ستونزې درلودې)، رامنځته کړې شوي دي. د افریقا د دغو غیرمنصفانه پولو په شأ و خوا کې تر اوسه په میلیونونو خلکو خپل ژوند له لاسه ورکړي او دغه بهیر لا دوام لري. خو له افریقا پرته دغه ډول تر ټولو غیرمنصفانه پولې (د چرچیل د تیورئ پر بنسټ) په منځني ختیځ کې رامنځته شوي دي، چې له ګټو څخه یې زیان ډیر دی.

اوسنی نقشه



په داسې حال کې چې د منځني خيتځ رامنځته شوې پولې دومره د کار وړ نه دي. خو دغه سيمه د پولو له ستونزو پرته، لا نورې زياتې ستونزې هم لري، دغه ستونزې له کلتوري رکود څخه نيولي بيا د حقوقو تر نابرابرۍ پورې، مرکوني مذهبي توپيرونه، ديني بنسټپالنه، تر ټولو سترې غير مذهبي او اخلاقي هاندو هڅې د اسلام ستونزې نه، بلکې د هغو ټولو نه برې او بسټيز عامل همدا رامنځته شوې پولې دي، چې زموږ خپلو ديپلوماتانو رامنځته کړې او اوس هغه د عبادت په څير سپيڅلې ګڼي.

په دې ليکنه کې، په پولو کې د سمون د رامنځته شوې طرحې ضميمه وړاندې شوې ده او په منځني ختيځ کې پر کردانو، بلوڅانو او شيعه اعرابو باندې د زغملو شوو ناروااوو، نا خوالو او تيروتنو، چې هغه لا تر اوسه هم دوام لري، بيرته جبرانول په پام کې نيول شوي دي. خو د يادونې وړ ده، چې په دې نوو رامنځته شوو پولو کې بيا هم مسيحيان، بهايان، نقشبنديان، اسماعيليان او داسې نور لږکي په پام کې نه دي نيول شوي. يوه بله نه بښونکې تيروتنه، چې د هغې جبران ناشونی بريښي، هغه د ټولوژنو (ژينوسايد) په وړاندې د مکافاتو په ډول د نورو د خاورې او يا سياسي سيمې ورکړه ده، چې ښه بيلګه يې د تيرې پيړۍ په پيل کې د عثماني امپراتورۍ له خوا د ارمنيانو ټول وژنه ده.

اوس په منځني ختيځ کې د نوو پولو رامنځته کيدو ته په نه پاملرنې او همدارنګه له دغې ستونزې څخه د خلاصون له پاره د خبرو اترو په نه کول سره به هيڅکله په دغې سيمې کې سوله او آرامتيا رامنځته نه شي. د هغو کسانو له پاره، چې د دا ډول موضوګانو له طرحې، د سارې په توګه د پولو بدلون او د نوو دولتونو او ملتونو له رامنځته کيدو څخه کرکه کوي او يا هغه نورو ملتونو او ډلو ته خوش خدمتې بولي، بايد وويل شي، چې د اوسنيو ستونزو د له منځه وړلو له پاره کيدای شي عادلانه لار وموندل شي، خو دا شونی نه ده، چې هغه د ټولو له پاره، ياني له بوسپورس نيولي تر سنده پورې، د منلو وړ وي. د پولو د ټاکلو له پاره يوازنې لاره د منطقی ميکانيزم لټون او د ستونزو له تشديد څخه مخنيوی دی. د نړيوال سياست د اصولو پر بنسټ، له جګړې څخه پرته بله اغيزمنه او ځانګړې وسيله او لنډه لار نشته، څو د هغې په مرسته د غير منطقي پولو په اړه پريکړې وشي زموږ تفکر او تعقل د منځني ختيځ د پولو په اړوند زموږ مخې ته پرتې او راروانې ستونزې راپه کوته کوي. زموږ په وړاندې د انسانانو په لاس جوړ کړې داسې مسايل پراته دي، که موږ د هغو د حل له پاره لاره و نه مومو، نو په سيمه کې به د کرکې او تشدد دا اور هيڅکله و نه وژل شي.

هغو کسانو ته په ځواب کې، چې نوې پولې غير اړينې او ان د هغو په اړه فکر کول له واقعيت څخه لرې مسأله بولي، بايد يادونه وشي، چې په دغو پولو کې بدلون هيڅکله په خپل ځای ولاړ نه دی او دغه شرايط هم هيڅکله ثابت نه وو. ډيرې پولې له کانکو او کوزووا څخه نيولي بيا د ققفاز تر غرونو پورې دومره چټکې د بدلون په حال کې وي او دي لکه څنګه چې دولتونه خپل سفيران او استازي د سترګو په رپ کې بدلوي.

یو بل له ۵۰۰۰ کلونو راپدېخوا له کرکې ډک تاریخي راز، چې" لا تر اوسه هم دوام لري" هغه قومي، ژبني او مذهبي ټولوژنه ده. تر ټولو دمخه د هغه پیل له دا ډول پولو څخه کوو، چې د امریکایي لوستونکو له پاره په زړه پورې او ډیرې حساسې دي: هغه دا چې د اسراییلو له پاره داسې یوه هیله، چې دغه هیواد وکولی شي، له خپلو کاوانډیو هیوادونو سره په امن او سوله کې ژوند تر سره کړي، نو اړینه بریښي، چې اسراییل د ۱۹۶۷ کال څخه مخکې پولو ته بیرته شا تګ وکړي. تر ټولو مهمه خبره دا ده، چې د اسراییلو امنیت په دې سیمه کې تضمین شي او د هغه له پاره د سیمو په پولو کې یو څه بدلون اړین بریښي. خو د بیت المقدس د ښار، چې تاریخ یې له زرګونو کلونو راپدېخوا په وینو لیکل شوی، او د هغه د شأ و خوا سیمو د پولو ټاکل، چې د ټولو اوسیدونکو له پاره د منلو وړ وي، کیدای شي زموږ اوسني نسل د هغه په اړه پریکړه ونشي کړي. د سیمې اوسیدونکي د خپل دین او ګروهې (عقیدې) په نامه هڅه و هاند کوي، چې زیاته سیمه ترلاسه کړي، څو وکولي شي، دوی په دې سیمه کې د تیلو زیاتې زیرمې، شتمنې او څواک ترلاسه کړي. د دې موضوع په اړه زیاتې څیرنې او لیکنې شوې دي، له همدې کبله به د هغې زیاته څیرنه په همدې ځای پریږدو او په داسې مسألو باندې به خبرې وکړو، چې تر اوسه پورې چا په شعوري توګه د هغو په اړه څیرنې نه دي تر سره کړي.

تر ټولو دمخه د بالقان او همالیا د غرونیو سیمو ترمنځه پراته کرد اوسیدونکو سره همیشني او تر ټولو زیاته بې عدالتي تر سره شوې او هغوی ته د یو آزاد کردستان په نامه هیواد، حق نه دې ورکړل شوی. د یوې ټولپوښتنې له مخې له ۲۷ ــ ۳۶ میلیونو پورې کردان په دې سیمې کې استوګن دي ( دغه شمیرنه کیدای شي سمه نه وي، ځکه یوه دولت هم دکردان سرشیمرنه په ایمان داری او آزاده توګه نه تر سره کړې او نه یې هم د دا ډول سرشیمرنې اجازه ورکړې ده). د کردانو دغه نفوس د عراق له اوسنیو اوسیدونکو څخه زیات دی، که د کردانو د نفوس تر ټولو ټیټه شیمرنه [۲۷ میلیونه] هم په پام کې ونیول شي، بیا هم کردان په نړۍ کې هغه ملت دی، چې د دومره نفوس سره سره ځانته د یو خپلواک هیواد خاوند نه دی. نه یوازې دا چې دوی ځانته یو هیواد نه لري، بلکې په سیمه کې رامنځته شوو نوو حکومتونو پر دوی باندې تل نوې زورزیاتې کړې، که څه هم دوی د ګزنفون Xenophon له وختونو څخه راپدېخواپه دغو سیمو کې استوګن دي.

د امریکا متحدو ایالتونو او د هغوی ټلوالې د بغداد له ماتې وروسته ستر چانس له لاسه ورکړ، ځکه دوی د دې پر ځای چې عراق په درې برخو وویشي، کردان یې دې ته اړ کړل، د عراق په حکومت کې، چې له بیلا بیلو قومونو [او مذهبونونه] څخه جوړ شوی، برخه واخلي. زموږ د دغې ناکامې ستر لامَل زموږ په بې زړه توب او د راتلونکې له پاره د یو تصور په نشتوالی کې نغښتی و. نه یوازې دا، بلکې موږ کردان دې ته اړ کړل، چې د عراق په نوي جوړ شوی حکومت کې برخه واخلی، کردانو متحدو ایالتونو ته د ښه نیت د ښودلو په غرض د عراق په نوی حکومت کې برخه واخیسته. خو که په آزاده توګه ټولپوښتنه تر سره شي، په دې کې هیڅ شک نه لیدل کیږي، چې په سلو کې سل عراقي کردان به د ځان له پاره د یو آزاد هیواد غوښتونکي وي.

په همدې ډول په ترکیې کې هم کردان، له ډیرې مودې راپدېخوا د دولت تر زورزیاتي لاندې ژوند تیروي او د دغه هیواد د پوځ د ناخوالو ښکار دي او هغوی ته "د غرنیو ترکانو" لقب ورکړل شوی، تر څو خپل قومي هویت له لاسه ورکړي. که څه هم په کردانو باندې دا ډول تر سره شوې زورزیاتي په تیره لسیزه کې د انقرې له خوا لږ شوې وې، خو دغو زورزیاتیو اوس یو ځل بیا شدد موندلي او له همدې امله سړی وویل شي، چې ترکیې خپله یو پر پنځمه ختیځه سیمه او د هغې اوسیدونکي تر خپل نیواک لاندې راوستي دي. همدارنگه که د سوریې او ایران کردانو ته دا حق او آزادي هم ورکړ شي، هغوی ټول به هم له آزاد کردستان سره ژر تر ژره خپل پیوستون اعلام کړي. خو د کردانو په دغو حقوقو باندې نه یوازې د نړۍ دیموکراتیکو دولتونو، بلکې نړیوالو کمیسیونونو د ساری په توگه د بشر د حقوقو کمیسیون او داسې نورو سترگې پټې کړې، خو زموږ خبري رسنې له دې څخه په عادي او کم ارزښتو موضوگانو باندې تل تبصرې کړې او کوي. دلته د یادونې وړ بریښي: چې له "دیاربکر" نه نیولې تر "تبریز" پورې آزاد کردستان به د لویدیځ د گټو د ساتلو داسې یو هیواد وي، چې بیلگه به یې له بلغاریا څخه نیولې بیا تر جاپانه پورې نه وي.

راتلونکې نقشه




په سیمه کې د پولو په دا ډول رامنځته کولو سره به [توازنی رد و بدل] د عراق درې سنې مذهبه ولایتونه ځانته یو دولت رامنځته کړی، چې کیدای شي هغه وروسته له سورېې سره د یوه ترون په ترڅ کې یو ځای شي. سوریه به خپل [لویدیځ] د مدیترانې سواحل یوه ستر لبنان ته بایلي، چې دا به د لرغونی فوننزیا Phoenencia د بیا رامنځته کیدو په مانا وي. د پخوانی عراق سویلي سیمه، چې اکثریت اوسیدونکي یې شیعه مذهبه دي، داسې یو دولت رامنځته کړي، چې [زمکنې پشپړتیا به یې] د فارس د خلیج د دواړو خواوو په اړدو کې وي. اردن به خپله اوسنې سیمه په خپل واک کې ولري

او د سعودي عربستان د سویلې سیمې یو برخه به هم دغه هیواد ته ورکړ شي. د یادونې وړ ده، چې د دې سیمې په دوو هیوادونو لکه سعودي عربستان او پاکستان کې به زیات جغرافیایي بدلون رامنځته شي.

په اسلامي نړۍ کې د رکود ستر لامَل د سعودي عربستان د پاچاهي کورنۍ ادعا په مکې [معظمې] او مدینې[منورې] ده. د نړۍ یو زورواکی دولت د اسلام سپځلي ځایونه، مکه او مدینه او خپل ولس د پولیسو په مرسته تر خپلې ولکې لاندې نیولي دي او دغه رژیم د هیواد د تیلو د خرڅلو له امله، ستر عاید ترلاسه کوي ـ او د دغو عایداتو په مرسته دوی وکولي شول، چې د خپل وهابیت سخته او تنک نظره گروهه د خپل هیواد له پولو بهر نورو سیمو کې هم خپره کړې. د حضرت محمد (ص) له وخته وروسته د تیلو په مرسته رامنځته شوی دولت او د هغه پر بنسټ ولاړ ځواک، که د عثماني امپراتورۍاو د مغولو وخت په پام کې و نه نیول شي، په ټولیزه توگه تر ټولو زیات اسلامي نړۍ او په ځانگړې توگه عربي هیوادونو ته زیان رسولی دی.

په داسې حال کې، چې د نړۍ نور دینونه او خلک د اسلام د سپیڅلو ځایونو په اړه پریکړه نه شي کولی، څومره به ښه وي، که چیري د مکې او مدینې دغه واک د اسلامي نړۍ ټاکل شوې شورا، چې د وخت په تیریدو او وار په وار سره بدلون وموممي، ترلاسه کړې ـ لکه د اسلامي نړۍ واتیکان ـ یو داسې ځای، په کوم کې چې د دې ستر دین په بیلا بیلو موضوگانو خبرې اترې تر سره شي، نه یوازې داچې وویل شي، داسې دې وشي. که چیرې رښتنې عدالت په پام کې ونیول شي، کوم چې کیدای شي زموږ د خوښې وړ نه وي، نو د دا ډول عدالت په پلي کیدو سره به د سعودي عربستان د ساحلي سیمو د تیلو زیرمې د شیعه عرب نوي رامنځته شوی هیواد ته ور په برخه شي، چې په دغو سیمو کې استوگن دي او د سعودي عربستان سویل ختیځه سیمه به یمن ته ورکړ شي. که چیرې داسې وشي، نو د سعود د کورنې له لاسه به اسلام او نړۍ ته لږ زیان ورسیږي.

ایران یو داسې هیواد دی، چې کړکیچنې او لیونۍ پولې لري. دغه هیواد به خپله زیاته سیمه متحده آذربایجان، آزاد کردستان، عرب شعیه دولت او آزاد بلوچستان ته بایلي، خو له اوسني افغانستان څخه به د هرات سیمه تر لاسه کړی. یوه داسې سیمه، چې تاریخي او ژبني ورته والي له فارس سره لري. ایران به یو ځل بیا نه یوازې په ختیه، بلکې د ژبنې له مخې سوچه فارس شي. دلته به تر ټولو ستره پوښتنه او مهمه مسأله دا وي، چې ایا د عباس بندر د ایران حکومت ته ور پریښودل کیږي او که د شعیه نوي دولت ته ورکول کیږي.

افغانستان، چې په لویدیځ کې کومه سیمه فارس ته بایلي، په ختیځ کې به د صوبه سرحد په بڼه، چې د پاکستان شمال لویدیځ سیمه ده، ترلاسه کړي او په دې توگه به د دواړو خواوو پښتانه ورونه سره یو ځای شي (د دې ټول ویش لامَل دا نه دی، چې موږ د نړۍ په نقشه کې د پولو بدلون غواړو، بلکې په دې سیمو کې استوگن خلک د دې غوښتونکي دي). پاکستان، چې یو غیر طبیعي [مصنوعی] دولت دی، له دې ویش ترمخه د بلوچستان

ایالت آزاد بلوچستان ته بایلي. پاتي طبیعي پاکستان به د سند د سنید ختیځ ته پاتي او د کراچي ښار به یې لویدیځ ته پاتې شي.

د متحده عرب امارتو برخلیک هم روښانه نه دی. کیدای شي، چې د هغه یو برخه عرب شعیه هیواد ته ورکړل شي (یو داسې دولت، چې له ایران سره سیالي او په سیمه کې سیمه ییز توازن رامنځته کړې). دا چې ټول سختدریځه تمدنونه دوه اړخیزه بڼه لري، نو ځکه د دوبی دولت ته د پاتې کیدو (بقا) حق ورکول کیږي، چې شتمن خلک په دې سیمه کې خپل هر اړخیزه کړه وړه تر سره کړی شي. کویت به په خپل اوسنیو پولو کې پاتې شي او عمان هم په همدې ډول.

په هر صورت د سیمې د پولو دغه اټکلې بدلون د سیمه د ملی او دیني فکتورونو او یا د هغو دواړو منعکس کونکی دی. که چیری موږ داسې یو جادویی دیوار ولرو، چې دغه پولې سره وویشي، نو یقیناً موږ به دې ته ترجیح ورکړو. خو د اوسنیو پولو له کتنې وروسته او د دې سیمو د پخوانیو پولو په څیړنې سره یوه خبره روښانه کیږي او هغه دا چې د شلمې پیړۍ په پیل کې فرانسوي او انګریزي سیمه ییزې غلطې پریکړې د دې پولو په اړوند څومره ناسمې وي او دې شوو پریکړو، چې له نولسمې پیړۍ څخه وروسته د یو بل په وړاندې [فرانسویان او انګلیسان] د شرمونکو جګړو د بریاوو او د هغو د ماتو پایلې وې، دې سیمې ته څومره زیان رسولی دی.

د سیمو د پولو دا ډول جوړول [بدلون]، چې د سیمې د خلکو هیلې منعکسوې، ښایي اوسمهال څه نا شوني وي. خو د وخت په تیریدو او د نا اټکل شوو پیښنو په رامنځته کیدو سره، چې د وینو تویدل به ورسره مل وي، طبیعي پولې جوړې شي. بین النهرین په څو څو ځله د نورو لاسه ورغلی دی، دا څه نوې خبره نه ده.

اوسمهال زموږ په یونیفورم کې به نارینه او ښځینه د ترهګرۍ په وړاندې خپلې جګړې ته دوام ورکړې، د ولسواکې د پراختیا او پرمختک له پاره به هاند و هڅه وکړې او همدارنګه په سیمه کې به د شته تیلو په زیرمو باندې واک ترلاسه کړي. له انقرې نه تر کراچی پورې په زور رامنځته شوی اوسنی انسانی ویش، فدرالیزم او په سیمه کې سیمه ییزو توپیرونو، مذهبي بنسټپالنې ته تر ټولو ښه چانس برابر او یو داسې کلتور یې رامنځته کړي، چې د سیمې اوسیدونکي یو پر بل تورونه لګوي او یو بل ته په سپکه سترګه ګوري. دغه حالت ترهګرۍ ته ښه موقع په لاس ورکړې او په سیمه کې یې داسې شرایط رامنځته کړي، چې اوسیدونکي یې په خواښنۍ سره خپلو پولو ته ګوري او په لوالتیا سره دښمنان لټوي.

په نړۍ کې ترهګرۍ ورځ په ورځ مخ په زیاتیدو ده او باالمقابل د انرژۍ زیرمې مخ په محدودیدو دي. په دا ډول حالت کې ښایي د منځني ختیځ وضعه په راتلونکې کې ښه نه، بلکې لا نوره هم خرابه شي، که سیمه په خپل اوسني حالت پاتې شي، نو دغه وضعه د ستر او له وحشت څخه ډک بدلون زیری ورکونکی دی، چې په کې ملت پالنه تل یو ځواکمن فکتور او اسلامي سختدریځې د ژوند نور مال حالت ګرځیدلی دی، نو دا شوني بریښي، چې په دا ډول حالاتو کې متحده ایالتونه او د هغو تلوالې په راتلونکې کې هم له

پر له پسي جګړو او کړکیچنو سره مخامخ شي. ښايي عراق په سیمه کې د هیلو او پرمختیا بیلګه وګرځي، که چیرى په عراق کې روان بدلون په بریالیتوب سره پاى ورسیږي، خو په سیمه کې موجوده ټول نور مسایل د ورانکارى په لورى روان دي.

که په راتلونکي وخت کې د منځني ختیځ په اوسنیو پولو کې د ژبې، ختیي او ګروهې (عقیدې) پر بنسټ بیا کتنه تر سره نه شي، نو دا له احتمال څخه لرى نه بریښي، چې په سیمه کې به نورې ویني، چې زموږ وینه به په کې هم شامله وي، توي شي.

څوک ګټونکي دي؟ او څوک هم بایلونکي ؟

ګټونکي دولتونه:

افغانستان، عربى شعیه هیواد، ارمنستان، آذربایجان، آزاد بلوچستان، آزاد کردستان، ایران، سپیڅلى اسلامى دولت، اردن، لبنان او یمن

بایلونکي دولتونه:

افغانستان، ایران، عراق،اسراییل، کویت، پاکستان، قطر، سعودى عربستان، سوریه، ترکیه، متحده عربى امارات او د اردن د سیند لویدیځه غاړه.

www.ayenda.org